# د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)
# نوم برکتونه

**05-October-2023**



هفته وراه د سنّتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

په 5 اکتوبر کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نوم برکتونه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... په عشقِ رسول کښې د غټو ګوټو ښکلولو برکتونه
- ... د قبر د سوالونو نه خلاصے ميلاو شو
- ... د لفظ مُحَمَّد په اَعداد کښې عجيبه راز
- ... د مُحَمَّد لفظ د هر حرف بيل بيل حکمتونه
- ... د څوئ نوم چې مُحَمَّد کيږدې نو د هغه عزت کوه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِیَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د حضرت وَهب بن مُنبّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه نه روايت دے، په بني اسرائيلو كښې يو كَس وو، **الله** پاک هغه له 200 كاله ژوند وركړو خو افسوس! هغه دا دومره اوګږد ژوند د **الله** پاک په نافرمانو كښې تير كړو.

(د هغه د ډيرو ګناهونو په وجه به بني اسرائيلو د هغه نه نفرت كولو،) هم په دغه حالت كښې چې كله هغه وفات شو نو خلقو (نۀ هغه له غسل وركړو، نه ئې ورته كفن واچولو، نۀ ئې ورله جنازه اوكړه بلكه) د هغه مړے ئې په راښكلو راښكلو د كچرے په ډيران كښې اوغورزولو.

دلته بنـي اسرائيلو دا انداز اختيار كړو، هلته رَبِّ كائنات حضرت موسٰى عَلَيهِ السَّلَام ته وحي راوليږله (او اوئې فرمائيل چې اے موسٰى! زمونږه يو بنده وفات شوے دے) تاسو هغه له غسل وركړئ، هغه ته كفن واچوئ، د هغه جنازه اوكړئ او دفن [يعني خخ] ئې كړئ! (د **الله** پاک په حكم ميلاويدو باندې حضرت موسٰى عَلَيهِ السَّلَام هغه ځائے ته لاړلو، د بني اسرائيلو نه ئې د هغه په باره

کښې پوښتنه اوکړه چې هغه مو آخر د کچرے په ډیران کښې ولې اوغورزولو؟ بني اسرائیلو اووئیل: اے د **الله** پاک نبي عَلَیْہِ السَّلَام! دا ډیر ګنهګار بنده دے، ده خپل 200 کاله ژوند په ګناهونو کښې تیر کړو.) دا ئې چې واوریدل نو حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام ډیر حیران شو، د **الله** پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: اے رَبِ کریمه! بني اسرائیل خو ګواهي ورکوي چې دے خو ډیر ګنهګار بنده دے، ده 200 کاله ژوند په ګناهونو کښې تیر کړے دے؟ **الله** پاک اوفرمائیل: اے موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام! بني اسرائیل ربنتیا وائي، واقعي دا بنده ډیر ګنهګار وو خو اَنَّهٗ کَانَ کُلَّمَا نَشَرَ التَّوْرَاةَ چې کله به ئې تورات شریف برسیره کولو وَ نَظَرَ اِلٰی اِسْمِ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم او زمونږ د محبوب نبـي حضرت مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوم به ئې لیدلو نو قَبَّلَهٗ وَ وَضَعَهٗ عَلٰی عَیْنَیْهِ وَ صَلّٰی عَلَیْهِ زمونږ د محبوب صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک نوم به ئې په ادب سره ښکلولو، هغه به ئې د سترګو سره لګولو او د درودِ پاک نذرانے به ئې لیږلې.

اے موسٰی! د هغه دا ادا زمونږه ډیره خوښه شوه، بس د هغه د دې نیک عمل په برکت سره ما د هغه ټول ګناهونه معاف کړل او وَ زَوَّجْتُهٗ سَبْعِیْنَ حُوْرَاءَ ما د هغه نِکاح د 70 حُورو سره اوکړه. [1]

اَعمال نہ دیکھے یہ دیکھا محبوب کے کُوچے کا ہے گدا

مولا نے مجھے یوں بخش دیا سُبْحٰنَ اللہ! سُبْحٰنَ اللہ!



1 ··· حلیة الاولیاء، جلد:4، صفحه:45، رقم:4695۔

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے د دُرودِ پاک...!! اندازه اولګوئ! بنده ګنهګار دے، هغه 200 کاله په ګناهونو کښې تیر کړي دي خو هغه د محبوبِ خُدا، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت کولو، په دې محبت کښې به ئې درودِ پاک لوستلو او درودِ پاک به ئې هم څومره لوستلو...؟ په روایتونو کښې نه دي بیان شوي چې دې بنده به هره ورځ زر [1000] ځله درود لوستلو، که هره ورځ به ئې 500 ځله درود لوستلو، یا به ئې 200، 300، 400 ځله درود لوستلو، نهٔ...! نهٔ، هره ورځ د درودِ پاک لوستلو ذِکر نه دے بلکه چې کله به ئې تورات شریف برسیره کولو، هغه وخت به ئې درود شریف لوستلو، د **اللّٰه** پاک د هغه هم دا ادا خوښه شوه او رَبِّ کائنات د هغه د 200 کالو ګناهونه هم معاف کړل، هغه ته ئې جنت هم عطا کړو او نور کرم ئې پرې دا اوکړو چې د 70 جنتي حورو سره ئې د هغه نِکاح اوکړله.

اوس لږ غور اوکړئ! دا خو د بني اسرائیلو یو کَس وو، په هغه باندې دومره کرم اوشو نو که مونږه غلامانِ مصطفٰے، مونږ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتیان که درود شریف لولو او کله نا کله نهٔ بلکه هره ورځ ئې لولو، یو نیم ځل نهٔ بلکه ډیر زیات ئې لولو نو په مونږ به د **اللّٰه** پاک څنګه څنګه رحمتونه راوریږي...؟ ځکه مونږ له پکار دي چې هره ورځ په پابندئ سره د ډیر زیات درود شریف لوستلو عادت جوړ کړو.

ہر دَم مِری زباں پہ دُرُود و سلام ہو
میری فُضُول گوئی کی عادَت نِکال دو[1]

ہوں دُرُود و سَلام میرے لب پر مُدام
ہر گھڑی دَم بَدم، تاجدارِ حرم[2]

## په عشقِ رسولِ کښې د ګوتو ښکلولو برکتونه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** نور د دې روايت نه دا معلومه شوه چې په عشق و محبت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوم ښکلول هم د **الله** پاک د رضا ذريعه ده ❁ په مَقاصِدُ الْحَسَنَه کښې دي: يو ځل اذان کيدو، کله چې مؤذِن اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه اولوستل نو عاشقِ اکبر حضرت ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هُم دا اووئيل (يعنې لکه څنګه چې مؤذِن وئيلي وو، هم هغه شان ئې اووئيل)، بيا ئې خپلې دواړه غټې ګوتې ښکل کړې او په سترګو ئې اولګولې، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې د خپل يارِ غار دا ادا اوليدله نو اوئې فرمائيل: مَنْ فَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلَ خَلِيْلِي فَقَدْ حَلَّتْ عَلَيْهِ شَفَاعَتِي يعنې زما خوږ دوست چې څنګه اوکړل، کوم بنده چې هم داسې اوکړي، د هغه د پاره زما شفاعت حلال شو[3] ❁ امامِ حَسَن مجتبٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: کله چې مؤذِن اووائي: اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله، کوم بنده چې د دې د اوريدو سره اووائي: مَرْحَبًا

323

1…وسائلِ بخشش، صفحه: 305۔

2…وسائلِ بخشش، صفحه: 249۔

3…المقاصد الحسنه، حرف الميم، صفحه: 440، تحت الحديث: 1019۔

بِحَبِيْبِیْ وَ قُرَّةُ عَيْنِیْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الله بيا دواړه غټې ګوتې ښکل کړي او په سترګو باندې ئې کيږدي، هغه به چرې هم نه ړنديږي، نه به د هغه سترګې خوږيږي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشقانِ رَسُول! مونږ له هم پکار دي چې په زړه کښې عشقِ رسول نور هم زيات کړو، کله چې هم پاک نوم مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورو، که په اذان کښې ئې واورو که په اقامت کښې ئې واورو که په عامو وئيلو کښې وارو يعنې چې کله ئې هم واورو نو د رسول صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په محبت کښې غټې ګوتې ښکل کړو او په سترګو ئې اولګوو او په ادب سره درودِ پاک لولو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې به بے شميره برکتونه نصيب کيږي.

لب پر آجاتا ہے جب نامِ جناب، منہ میں گھل جاتا ہے شہدِ نایاب

وَجد میں ہو کے ہم اے جاں بیتاب اپنے لب چُوم لیا کرتے ہیں[2]

وضاحت: زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! نوم (مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) چې کله زمونږ په ژبو باندې راځي نو د خالص شاتو [يعني شهدو] په شان په خله کښې وِيلي شي او ټول بدن ته راحت او سکون اورسوي، په هُم دې خوشحالئ کښې شونډې خپل مينځ کښې اولګي او يو بَل ښکل کړي.



1…المقاصد الحسنه، حرم الميم، صفحه: 441، تحت الحديث: 1019۔

2…حدائقِ بخشش، صفحه: 114۔

www.dawateislami.net

**یاد ساتئ!** په لمُونځ کښې، د قرآنِ پاک په تلاوت کښې او د جُمعے د خطبے اوریدو په وخت که پاک نوم مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راشي نو هغه وخت ګوتې نه دي ښکلول پکار. په لمُونځ کښې د منع کیدو وجه خو ظاهره ده، د قرآنِ پاک او خطبے اوریدو په وخت ځکه ګوتې نشې ښکلولے چې هغه وخت د ټول کار روزګار اودرولو او په پوره توجُّه سره د خطبے یا تلاوت اوریدلو حکم دے. د ګوتو ښکلولو په وخت دا احتیاط هم کوئ چې د ښکلولو آواز نه پیدا کیږي.[1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نیت بنده جنّت ته رَسَوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ❀ د علمِ دِین زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ چې څومره کیدے شو د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به باَدبه کښینم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به پوره بیان اورم ❀ څه چې



1…فتاوٰی رضویه، جلد: 22، صفحه: 316 خلاصةً۔
2…بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه: 65، حدیث: 1۔

www.dawateislami.net

واورم پخپله به پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قبر د سوالونو نه خلاصے میلاؤ شو

منقول دي: (د مراکش په ښار) فاس کښې به یوه نیکه زنانه اوسیدله، د هغې عادت وو چې کله به پرې څه لاس تنګي یا پریشاني راتلله نو هغې به دواړه لاسونه په مخ باندې کیښودل او سترګې به ئې پټې کړې او وئیل به ئې: مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم . (نو د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم په برکت سره به د هغې پریشاني لرې شوه.) کله چې هغه زنانه وفات شوه نو خپلوان په خوب کښې اولیدله او پوښتنه ئې ترینه اوکړه: تاسو په قبر کښې پوښتنه کوونکې 2 فرښتے مُنْكَرنَكِيْر اولیدلې؟ هغې جواب ورکړو: آو! هغه ما له راغلې وې. د هغوئې د لیدلو سره ما د خپل عادت مطابق دواړه لاسونه په خپل مخ باندې کیښودل او اومې وئیل: مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. ما چې کله د مخ نه لاسونه لرې کړل نو دواړه فرښتے تلې وې.[1]

گنہگاروں کی اس سے مشکلیں آسان ہوتی ہیں
نہ کیونکر سب سے بڑھ کر نام ہو پیارا مُحَمَّد کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

323

1…شواهد الحق، الباب السادس، الفصل الثانی فی ذکر من استغاث به...الخ، صفحه: 230 ملتقطاً۔

# د ښو عادتونو اختيارولو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د ايمان نه ډکې دې واقعه کښې چې څنګه زمونږ د آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ خوږ نوم مُحَمَّد صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د برکتونو ذِکر دے، ورسره د دې نه دا تعليم هُم ميلاويږي چې مونږ له پکار دي چې په دُنيا کښې ښه عادتونه جوړ کړو، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! دا ښه عادتونه به په قبر او حشر کښې زمونږ د نجات ذريعه جوړ شي. مثلاً ❀ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنتو باندې د عمل کولو په نِيَّت هر څيز په ښي لاس باندې د اخستلو او ورکولو عادت جوړ کړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! د قيامت په ورځ چې به کله اعمال نامه درکولے کيږي نو ښے لاس به مو ور وړاندې کيږي او چا ته چې په ښي لاس باندې اعمال نامه ميلاؤ شوه، هغه به جنت ته ځي ❀ دغه شان په دنيا کښې د سختي او پريشانئ په وخت د کډو وډو وئيلو په ځائے د ښو جُملو وئيلو عادت جوړ کړئ، مثلاً چې څه سخته راشي، پريشاني راشي نو د اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيۡهِ رَاجِعُوۡن لوستلو عادت جوړ کړئ، حَسۡبِیَ اللّٰهُ (زما د پاره الله پاک کافي دے) وائې! يَا رَسُوۡلَ الله! مدد...!! وائې، داسې د ښو ښو جملو وئيلو عادت جوړ کړئ نو چې کله په قبر و حشر کښې د ويرې سره مخ کيږئ نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! د عادت مطابق به مو په خله هم دغه جملے راځي او که الله

پاک اوغوښتل نو سخته به آسانه شي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږو نومونو شمیرل ممکن نه دي

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږ د آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اوچتو شانونو کښې یو شان دا هم دے چې د هغوئي نومونه ډیر زیات دي، د خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ښکلي سیرت باندې لیکلے شوي کتاب مواهِبُ اللَّدُنیه کښې د هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 800 مبارک نومونه لیکلے شوي دي. سیدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما چې کله تحقیق اوکړو نو 1400 نومونه میلاؤ شول، نور فرمائي: (دا خو هغه دي کوم چې زما په عِلم کښې راغلل، ګنې) د هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو نومونو شمیرل ممکن نه دي.[1]

## په مختلفو ځایونو کښې مختلف نومونه

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو مخلوقاتو نبي دے، ځکه په هر مخلوق کښې هر ځائے د هغوئي د ښکلو ښکلو مبارکو نومونو شور دے. تابعي بزرګ حضرت کعبُ الاَحبار رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: ❀ جنت والؤ کښې د هغوئي نوم عَبدُ الکَرِیم دے ❀ دوزخ والؤ

1… فتاویٰ رضویه، جلد:28، صفحه:366365 خلاصةً۔



www.dawateislami.net

کښې عَبدُ الجَبَّار دے ❁ عرش والؤ کښې عَبدُ الحَمِيد دے ❁ په فرښتو کښې عَبدُ المَجِيد دے ❁ د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام تر مينځه عَبدُ الوَهَّاب دے ❁ په پيريانو کښې عَبدُ الرَّحِيم دے ❁ غرونه هغوئي ته عَبدُ الخَالِق وائي ❁ په وَچه کښې د هغوئي پاک نوم عَبدُ القَادِر دے ❁ په سمندرونو کښې عَبدُ المُهَيمِن دے ❁ مهيان هغوئي ته عَبدُ القُدُّوس وائي ❁ ځنګلي ځناور هغوئي ته عَبدُ الرَّزَّاق وائي ❁ د شيطانانو تر ځنګ عَبدُ القَهَّار دے ❁ ماتوونکي (ځناور) هغوئي ته عَبدُ السَّلَام وائي ❁ ځاروي (مثلاً غوا، ميښې، چيلۍ وغيره) هغوئي د عَبدُ المُؤمِن په نوم باندې پيژني ❁ مرغۍ ئې د عَبدُ الغَفَّار په نوم يادوي ❁ الله پاک سره د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک نوم طٰهٰ دے او په مؤمنانو کښې د هغوئي د ټولو نه مشهور او معروف نوم مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے او د هغوئي مبارک کُنيت اَبُو القَاسِم دے ځکه چې هغوئي جنت تقسيموونکے دے. صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [1]

## په قرآنِ کريم کښې د مُحَمَّد نوم

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ خوږ نوم مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم باندې په قرآنِ کريم کښې يو پوره سُورت [سورۂ محمّد] هم موجود دے، کوم چې په شپږويشتمه



1 … القول البديع، الباب الاول، الفصل الرابع في بيان اسمائه، صفحه:84 ملتقطًا۔

سيپاره کښې دے. د دې نه علاوه په قرآنِ کريم کښې ټول 4 ځله مُحَمَّد نوم راغلے دے. **(1)** په سيپاره 4، سورۀ آلِ عِمْرَان، آيت:144 کښې **(2)** په سيپاره 22، سورۀ اَحْزاب، آيت:40 کښې **(3):** په سيپاره 26، سورۀ مُحَمَّد، آيت: 2 کښې او **(4)** په سيپاره 26، سورۀ فَتْح، آيت: 29 کښې.

راځئ چې د برکت حاصلولو د پاره په دې کښې يو آيت مبارک واورو، **الله** پاک فرمائي:

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَاۤ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾

(پاره:22، الاحزاب:40)

مفهوم ترجَمۀ کنزُ العرفان: محمد ستاسو په سړو کښې د چا پلار نه دے خو د **الله** رسول دے او د ټولو نبيانو په آخره کښې تشريف راوړونکے دے او **الله** په هر څه پوهيږي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| مُحَمَّدِ مصطفےٰ! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبیٰ! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی![1] |

## د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم کله کيښودے شو؟

خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله دنيا ته تشريف راوړلو نو د هغوئي نيکه بابا جان حضرت عبد المُطلب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د



1 … وسائلِ فردوس، صفحه:51 ملتقطًا.

www.dawateislami.net

هغوئي پاک نوم مُحَمَّد کيښودو او په دې باره کښې ډير روايتونه هم دي چې هغوئي يو خوب اوليدلو، د کوم په تعبير کښې چې اووئيلے شو چې د هغوئي په اولاد کښې به يو کَس وي، چې مشرق او مغرب والا ټول خلق به د هغوئي اِطاعت کوي او په زمکه او آسمان کښې به د هغوئي تعريف کيږي، دغه شان د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږې مور جانې سيده آمنه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا هم يو خوب اوليدلو: چا ورته ووئيل: اے آمنه! ستاسو کره د دې اُمَّت سردار راتلونکے دے، کله چې هغه تشريف راوړي نو د هغوئي نوم مُحَمَّد کيږدئ!. کله چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنيا ته تشريف راوړلو نو د هغوئي نوم مُحَمَّد کيښودے شو.[1]

دا ټولې خبرې د دې ظاهري دنيا په لحاظ سره دي، ګنې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم مُحَمَّد کله کيښودے شوے وو، علّامه اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: کله چې **اللہ** پاک د خپل نُور نه د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور پيدا کړو نو هغه پاک نُور د رَبِّ کريم په بارګاه کښې سجده اوکړه، بيا ئې چې کله د سجدے نه سر را اوچت کړو نو اوئې وئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ (ټول تعريفونه د **اللہ** پاک د پاره دي). هغه وخت رَبِّ کائنات اوفرمائيل: لِذٰلِكَ خَلَقْتُكَ وَ سَمَّيْتُكَ مُحَمَّدًا يعني اے خوږه محبوبه! ما تاسو د هُم دې د پاره پيدا کړئ او ستاسو



1…مواهب اللدنيه، المقصد الثانى، الفصل الاول فى ذكر اسمائه الشريفه…الخ، جلد:1، صفحه:364 ملتقطًا

نوم مې مُحَمَّد کېښودو.[1]

| | |
|---|---|
| آنکھوں کا تارا نامِ مُحَمَّد | دِل کا اُجالا نامِ مُحَمَّد |
| اللّٰہُ اکبر رَبُّ العلا نے | ہر شَے پہ لکھا نامِ مُحَمَّد |
| ہیں یُوں تو کثرت سے نام لیکن | سب سے ہے پیارا نامِ مُحَمَّد |
| شیدا نہ کیوں ہوں اس پر مسلماں | رَبّ کو ہے پیارا نامِ مُحَمَّد 2 |

## د مُحَمَّد نوم معنٰی

د سیرتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډېر معتبر کتاب رَوْضُ الْاُنُف کښې دي: د مُحَمَّد نوم لفظي معنٰـی ده: اَلَّذِیْ یُحْمَدُ حَمْدًا بَعْدَ حَمْدٍ یعنې هغه ذات د کوم تعریف چې بیا بیا بیان کړے شي.[3]

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه: حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه اوچتې مرتبې والا هستي ده د کومې چې بیا بیا تعریف کیږي، په زرګاؤ کَرَته تعریف ئې کیږي او د کله نه دا تعریف کیږي؟ د کله نه چې د هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک نوم مُحَمَّد کېښودے شوے دے، دا پاک نوم د کله نه کېښودے شو؟ د ټولو مخلوقاتو د پیدائش نه هم په زرګونو کاله مخکښې کېښودے شوے وو، د دې نه معلومه شوه چې کله زمکه او آسمان، عرش او



1…شهد سے میٹھا نامِ محمد، صفحه:2928۔

2…قبالۂ بخشش، صفحه:133 ملتقطًا۔

3…الروض الأنُف، ولادة رسول الله، جلد:1، صفحه:310۔

www.dawateislami.net

کرسي، لوح او قلم، پيريان، انسانان او فرښتے، دا هيڅ هم نه وو نو هٰغه وخت هم د مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعريف کيدلو، اوس هم دا تعريف کيږي او اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! تر قيامته بلکه د قيامت نه پس به چې کله جنتيان جنت ته لاړ شي، هغه وخت به هم د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعتونه جاري وي.

دولت جو چاہو دونوں جہاں کی | کر لو وظیفہ نامِ مُحَمَّد

## چرته چې د نقص ګمان نشته

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دلته په يوه خبره باندې غور اوکړئ! د مثال په طور د کوم بنده چې په زرګونو خوبيانې وي، ورسره څه عيب هم وي نو د هغه صرف تعريف نشي کيدے، ځوک چې د هغه خوبيانې ويني نو تعريف به ئې کوي، ځوک چې د هغه عيب وِيني، هغه به ئې بدي بيانوي، داسې ګس په کوم کښې چې په لکونه خوبيانې وي خو ورسره څه عيب هم وي نو د هغه صرف تعريف نشي کيدے، بدئ به ئې هم بيانيږي خو قربان شم! اللّٰه پاک خپل محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُحَمَّد جوړ کړے دے، يعنې هٰغه هستي د کومې چې هره هره لحظه، په هره زمانه کښې، په هر ځائے کښې، د زمکې او آسمان په فراخو کښې صرف او صرف تعريف کيږي، ځکه د دې پاک نوم نه معلومه شوه چې مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه

هستي ده کومه چې د هر نقص او عیب نه پاکه ده.

وہ کمالِ حُسنِ حضور ہے کہ گمانِ نقص جہاں نہیں
وہی پھول خار سے دُور ہے، یہی شمع ہے کہ دُھواں نہیں[1]

**وضاحت:** د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُسن داسې بې مثاله دے چې په هغه کښې د څه قِسمه عیب کیدل خو غټه خبره ده، بلکه د عیب ګمان قدرې هُم پکښې نشته، دا هغه ځانګړے ګُل دے د کوم سره چې ازغے نشته، دا هغه بې مثاله شمع ده د کومې رڼا خو شته مګر لوګے ئې نشته دے.

## دښمن هم په تعریف کولو باندې مجبور

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** اندازه اولګوئ! **اللّٰه** پاک خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څومره خوږ خوږ بې مثله او بې مثاله پاک نوم عطا کړے دے. په **روایاتو کښې** دي: کافران چې د هغوئ په نصیب کښې خوبیانې لیدل نشته دے، هغوئ ته به صرف او صرف عیب ښکاریدلو، هغوئ چې هم کله د محبوبِ رحمان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدئ بیانول غوښتل نو په دې پاک ذات کښې ئې د هیڅ قِسمه عیب اونه لیدلو خو بیا هم هغوئ د بدو کولو نه منع نه شول، کله چې به هغوئ **مَعَاذَ اللّٰه!** د هغوئ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدي بیانوله نو وئیل به ئې: مُحَمَّد داسې دے، مُحَمَّد هغسې دے. بیا به هغوئ له د ځان نه شرم ورتلو چې مونږه وایو خو مُحَمَّد (یعني [د



[1] … حدائقِ بخشش، صفحه:107۔

www.dawateislami.net

محمد معنٰی خو دا ده] د چا چې صرف تعریف اوکړے شي) او [مونږه وایو چې هغوئي] بدي کوي؟ نو هغوئي د ځان نه د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو نوم راجوړ کړو، بیا به چې کله هم هغوئي بد بیانول غوښتل نو وئیل به ئي: مُذَمَّم (یعني د چا چې صرف بد بیان کړے شي) هغه داسې دے. کله چې هغوئي دا انداز اختیار کړو نو د **بخاري شریف** حدیثِ پاک دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: (اے زما صحابؤ!) آیا تاسو حیران نه ئې چې **الله** پاک زه څنګه د کافرانو د کنځلو نه **محفوظه** ساتلے یم، هغوئي **مُذَمَّم** ته کنزلې کوي **وَ اَنَا مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم** څکه چې زه **مُذَمَّم** نهٔ بلکه مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یم.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! مولانا حَسن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خومره ښکلې خبره لیکلې ده:

| | |
|---|---|
| اذاں کیا؟ جہاں دیکھو ایمان والو | پسِ ذِکرِ حق ذِکر ہے مصطفٰے کا |
| کہ پہلے زباں حمد سے پاک ہولے | تو پھر نام لے وہ حبیبِ خُدا کا[2] |

**وضاحت:** اے ایمان والؤ! لږ اوګورئ چې اذان وي، که خطبه وي، که کلمه وي، غرض په هر ځائے کښې وړومبے د **الله** پاک ذِکر راځي، بیا د **محبوبِ** کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک ذِکر راځي، په دې کښې څه حکمت دے؟ دا چې په ژبه



1…بخاری، کتاب المناقب، باب ما جاء فی اسماء رسول اللّٰہ، صفحہ:903، حدیث:3533 ملتقطًا۔

2…ذوق نعت، صفحہ:56۔

www.dawateislami.net

وړومبے د رَبِّ کریم ذِکر اوشي، په دې باندې ژبه پاکه شي، نو بیا په دغه ژبه د د **اللّٰه** پاک د حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم واخستلے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**یا رسولَ اللّٰه ﷺ حیران یم چې ستاسو کوم کوم تعریف بیان کړم!**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د معنې په لحاظ سره د خوږ خوږ نوم مُحَمَّد یو بَل خاصیت دا دے. غور اوکړئ! د کوم بنده خوبیانې چې محدود وي، د هغه تعریف به هم محدود وي، مثلاً د یو بنده 100 خوبیانې دي، بیا د هغه تعریف شروع کړې، یوه خوبي بیان شوه، دویمه خوبي بیان شوه، دریمه خوبي بیان شوه، آخر به 100 واړه خوبیانې بیان شي نو تعریف به هم ختم شي، دغه شان د چا لکونه خوبیانې وي، که د هغه تعریف شروع کړې نو آخر به د هغه تعریف هم ختم شي.

خو قربان شم! زمونږ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ نوم مُحَمَّد دے، د کوم معنٰی چې ده: هغه ذات د کوم چې بس صرف تعریف کیږي. مطلب دا دے چې مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ذات دے چې د کله نه زمکه جوړه شوې ده، د کله نه چې آسمان جوړ شوے دے، د کله نه چې دا سپوږمۍ، ستورې، لمَر جوړ شوي دي، د کله نه چې انسانان، پیریان او فرښتے جوړې شوې دي، د دې نه په زرګونو کاله مخکښې هُم د هغوئي تعریف کیدلو او تر قیامته پورې به کیږي، یعنې دا هُغه ذات دے

[چا لره چې الله پاک دومره خوبیانې ورکړې دي] چې د دوئي تعریف هډو ختمیږي نه، د چا د تعریف چې اِختتام نشته نو پته اولګیده چې د هغوئي د خوبیانو هم څه اِختتام نشته.

## که سمندر سیاهي جوړه شي نو بیا هم...!!

الله پاک په قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي:

قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّیْ لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّیْ وَ لَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿۱۰۹﴾

(پاره:16، الکهف:109)

مفهوم ترجَمۀ کنزُ العرفان: ته اوفرمایه: که سمندر زما د رب د خبرو د پاره سیاهي شوے وے نو ضرور به سمندر ختم شوے وے خو زما د رب خبرې به نه وے ختمې شوې، اګر که مونږه د هغې د مدد د پاره د هغې په شان بل راوستے وے.

په دې آیت مبارک کښې د لفظ کَلِمَات نه څه مُراد دے، په دې باره کښې د مُفَسِّرِینِ کرامو مختلف اَقوال دي، شیخ عبد الحق مُحَدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: د مُحقِّقِینو [یعني تحقیق کوونکو] په نِزد د رَبّ تعالٰی د کَلِمَاتو نه مُراد زمونږه آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، په دې توجیه به د آیت مبارک مطلب دا جوړیږي چې که د سمندر اوبه سیاهي جوړه شي او د ټولې دُنیا لیکونکي قلمونه راواخلي او د دې اوبو په ذریعه د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه لیکل شروع کړي، اګرچه د

دې سمندر برابرې یعنې دومره اوبه نورې هم په دې کښې شاملې کړے شي، بیا به هم هغه سیاهي ختمه شي خو د **محبوبِ کریم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه او کمالونه به ختم نه شي.[1]

سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خومره ښکلې خبره اوکړه:

تیرے تو وَصف عیبِ تناہی سے ہیں بَری | حَیراں ہوں میرے شاہ میں کیا کیا کہوں تجھے[2]

**وضاحت:** د څه څیز ختمیدل هم یو قِسم له عیب وي. **الله** پاک خپل محبوب د هر عیب نه پاک ساتلے دے نو اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض کوي: اے خوږه **محبوبه** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو صِفَت، ستاسو خوبیانې د ختمیدو د عیب نه هم پاکې دي زه حیران یم چې ستاسو کومې کومې خوبیانې بیان کړم.

## د لفظِ مُحَمَّد په اَعدادو کښې عجیبه راز

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** کیدے شي چې مونږ ټولو ته معلومه وي چې د مُحَمَّد لفظ اعداد څومره دي؟ 92. یاد ساتئ! دا چې کوم 92 اَعداد دي، دا د **عِلمِ اَبجَد** په لحاظ سره دي. د اعداد راویستلو یوه بَله طریقه هم ده، کومې ته چې **عِلمُ البَسط** وئیلے شي، د دې مطابق د مُحَمَّد نوم اعداد 92 نه بلکه 313 جوړیږي.[3]



1…مدارجِ النبوه، باب سوم، دربیان فضل و شرافت، جز: 1، صفحه:73 ملتقطًا۔

2…حدائقِ بخشش، صفحه:175۔

3…الحقیقة المحمدیه، و من جواہر العارف بالله الشیخ علی…الخ، صفحه:632 خلاصةً۔

www.dawateislami.net

علمائے کرام فرمائي: **الله** پاک زيات و کم يو لاکھ 24 زره انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام راليږلي دي، په دوئي کښې چې کوم رسولان دي، د هغوئي تعداد 313 دے او د مُحَمَّد لفظ د عِلمِ بَسط په لحاظ سره اعداد هم 313 دي، په دې کښې اشاره ده چې مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هٰغه 313 رسولانو د صفتونو، د هغوئي د کمالونو، د اوچتو مقامونو او خوبيانو جامِع دے.

## د ټولو نبيانو د صفتونو جامِع

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دا خو يوه اشاره وه، کني رښتيا خبره خو دا ده چې مخکښې څومره انبيا او رسولان تير شوي دي، هغه ټولو ته چې څومره خوبيانې، څومره کمالونه عطا کړے شوي وو، زمونږه آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته هغه ټول صفتونه او کمالونه عطا کړے شوي دي بلکه حق خو دا دے چې هغوئي ته هم څه ميلاو شوي وو د محبوبِ رحمان، د نبيانو د سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت ميلاو شوي وو. **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې د ډيرو زياتو نبيانو ذِکر کولو نه پس افرمائيلي دي:

**اُولٰٓىِٕكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ؕ** (پاره:7، الانعام:90)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العِرفان: هُم دا هٰغه (مُقَدَّسې) هستئ دي کومو ته چې **الله** هدايت اوکړو نو تاسو د هغوئي د هدايت تابعداري اوکړئ.

د قرآنِ كريم مشهور مفسر، حكيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت په تفسير كښې ليكي: يعني اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږه مخكښې انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ته ډير زيات صفتونه او كمالونه عطا كړي وو، تاسو د دې ټولو صفتونو او كمالونو جامِع جوړ شئ چې كوم كمالونه په هغوئي كښې يو يو، دوه دوه وو، چې هغه ټول صفتونه په تاسو كښې راجمع وي، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک ژوند د دې آيت ښكاره او ژوندے تفسير دے. د دې نه معلومه شوه چې **الله** پاک خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفتونو جامِع جوړ كړے دے يعني د ټولو نبيانو صفتونه او كمالونه ئې په هغوئي كښې جمع كړي دي.[1]

نوح و خليل و موسٰی و عيسٰی | سب کا ہے آقا نامِ مُحَمَّد

## مُحَمَّد نوم او د ختمِ نبوت عقيده

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه د خوږ آقا و مولا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ خوږ نوم مُحَمَّد په باره كښې علمائے كرامو يوه ډيره ښكلې نُكته بيان كړې ده، فرمائي: مُحَمَّد لفظ د حمد نه جوړ دے او حمد هميشه په آخر كښې كولے شي لكه ❀ مونږ چې ډوډئ اوخورو نو په آخره كښې وايو: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❀ چې كله اوبه اوڅښو نو په آخره كښې وايو: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هم دغه شان چې څه كار هم وي، د هغې د كولو نه پس حمد كولے شي، تر دې چې **الله** پاک د جنت والؤ په باره كښې



1 … تفسيرِ نعيمی، پاره:7، الانعام، زيرِ آيت:90، جلد:7، صفحه:614613 ملتقطًا۔

www.dawateislami.net

فرمائيلي دي:

وَ اٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۠(۱۰) (پاره:11، یونس:10)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العِرفان: او د هغوئي د دُعا خاتمه دا ده چې ټول صفتونه د هٰغه الله د پاره دي کوم چې د ټولو جهانونو پالونکے دے.

معلومه شوه چې حمد هميشه په آخره کښې کولے شي، د مخکښينو ټولو نبيانو نومونو ته اوګورئ! په هغوئي کښې د چا نوم هم مُحَمَّد نه وو، ولې؟ ځکه چې اوس لا د نبوت سلسله روانه وه، الله پاک د ټولو نه په آخره کښې مُحَمَّدِ مصطفٰے، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را اوليږلو، د هغوئي پاک نوم ئې مُحَمَّد کيښودو سره دا اووئيل چې اوس حمد بيان شو، ځکه به اوس د دوئي نه پس نوے نبي نه راځي.

| | |
|---|---|
| بعد آپ کے ہر گز نہ آئے گا نبی نیا | وَاللّٰه! ایماں ہے مرا، اے آخری نبی[1] |

| | | | |
|---|---|---|---|
| مُحَمَّدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبیٰ! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی![2] |

323

1 … وسائلِ فردوس، صفحه:21۔

2 … وسائلِ فردوس، صفحه:51 ملتقطًا۔

# د مُحَمَّد د هر حرف بیل حکمتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ آقا خوږ نوم مُحَمَّد ډېر ځانګړے دے. د دې په هر یو حرف کښې بیل بیل حکمتونه دي. یو ځل خواجه قمرُ الدین سیالوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشریف فرما وو او نعت خواني کیدله، هغه وخت یو نعت خوان دا شعر اولوستلو:

| | |
|---|---|
| السلام! اے میم، حاء اور میم دال | السلام اے بے نظیر و بے مثال |

په دې باندې یو کَس عرض اوکړو: محترمه! په دې شعر کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم مات کړے شوے بیان شوے دے، دا خو ګستاخي ده؟ خواجه قمرُ الدین سیالوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: نۀ...!! دا ګستاخي نه ده ځکه چې د مُحَمَّد نوم د هر یو حرف بے شمیره برکتونه دي، ځکه اهلِ عشق د هر یو حرف د بیلو بیلو برکتونو حاصلولو د پاره دا بیل بیل هم لولي. بیا هغوئي د عربئ یو شعر اولوستلو:

| | |
|---|---|
| مُحَمَّدٌ مِیْمُهٗ مَوْتُ لِکُفْرٍ | حَیَاةُ الْقَلْبِ لِلْمُؤْمِنِ بِحَاءِ |
| وَمِیْمٌ ثَانِیْ مَوْجُ الْمَوَاهِبِ | وَدَالُ خَیْرٍ دَالٌ لَا اِشْتِبَاہِ |

یعنې د مُحَمَّد لفظ وړومبے میم د کُفر د پاره مرګ دے او د دې په حا کښې د مسلمانانو د زړه حیات (یعنې ژوند) دے، د دې دویم میم مواهب یعنې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عنایاتو او عطا ګانو چپه ده او د دې دال

د هر خير دال (يعني راهنما) دے. په دې کښې د شک هيڅ ګنجائش نشته.[1]

دونوں جہاں میں دُنیا و دِیں میں | ہے اک وسیلہ نامِ مُحَمَّد
روزِ قیامت میزان و پُل پر | دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مُحَمَّد د دواړو جهانونو مالک و مختار دے

سُبْحٰنَ الله! څومره خوږ نوم دے، د دې په هر يو حَرف کښې حکمتونه پټ دي. د درودِ پاک مشهور او معروف کتاب دلائلُ الخيرات شريف کښې دي: د مُحَمَّد لفظ د دواړو ميمونو مطلب دے: مُلک (يعني بادشاهي)، د حا مطلب دے: رَحمَت او د دال مطلب دے: دَوَام (يعني هميش والے).

مطلب دا دے چې مُلک (يعني بادشاهياني) دوه دي، (1) يوه د دنيا بادشاهي او (2) بَله د آخرت بادشاهي، ځکه د مُحَمَّد لفظ په دې 4 حرفونو کښې اشاره ده چې الله پاک د دواړو جهانونو د رحمت نه ډکه، د شفقت او عنايت نه ډکه بادشاهي د هميشه د پاره مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عطا کړې ده.

## د مُحَمَّد نوم برکتونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ



1 ... وسائلِ فردوس، صفحه:51 ملتقطًا۔
2... انوارِ قمريه، صفحه:106 بتغير قليل۔

www.dawateislami.net

وَسَلَّم خوږ خوږ نوم مُحَمَّد د ډیر ښکلي کیدو سره سره ډیر بابرکته هم دے، د دې پاک نوم په برکت باندې په دنیا او آخرت کښې خیرونه میلاویږي، هدایت نصیب کیږي، مشکلات لرې کیږي او وران کارونه سمیږي.

## نوم مُحَمَّد د هر یو اسره ده

په مَوَاهِبُ اللَّدُنِيَّة کښې دي: **الله** پاک چې کله عرشِ اعظم جوړ کړو نو په عرش باندې د **الله** پاک د جلال له وجهې هیبت راغے، عرش د ویرې نه رپیدو، بیا په دې باندې لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ اولیکلے شوه، د دې سره د عرش هیبت نور هم زیات شو، نوره زیات په رپیدو شو، بیا په دې باندې مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله اولیکلے شو، د رحمت د ټول جهان، محبوبِ رحمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک نوم برکت وو چې د عرشِ اعظم هغه هیبت والا کیفیت ختم شو او عرشِ اعظم ته راحت میلاؤ شو.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په وَنه باندې مُحَمَّد نوم

علامه یوسف بن اسماعیل نبهاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي: یو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه یو ځل هندوستان ته لاړم، هلته یو ښار ته اورسیدم، ما هلته یوه وَنه اولیدله د هغې میوه د بادامو په شان وه، د هغې میوے 2 پوستکي وو، کله



1…مواہب اللدنیه، المقصد الخامس:الاسراء والمعراج، جلد:2، صفحه:388۔

www.dawateislami.net

چې به اوسپړدلې شوه نو د دننه نه به د شين رنګ يوه پاڼه را اُوتله، په هغې باندې به قدرتي طور لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّد رَّسُوْلُ الله ليکلې شوي وو، د هغه ښار خلقو به د هغه وَنې نه برکت حاصلول، د قحط په ورځو کښې به ئې د هغې په وسيله باندې دعاګانې کولې نو باران به کيدلو.[1]

دغه شان يو روايت په سِيرَت حَلبِيَّه کښې هم دے، په هغې کښې ليکلي دي: د هندوستان په علاقه کښې يوه وَنه وه، د کومې پاڼې چې لرې شان شنې وې، د هغې په هره پاڼه باندې به د تيز رنګ سره لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّد رَّسُوْلُ الله ليکلې شوې وه. ولې چې د هغه ښار اوسيدونکي غير مسلمه وو نو ځکه به هغوئي هغه وَنه وهله خو د **الله** پاک قدرت وو چې هغه وَنه به بيا شنه کيدله، يو ځل هغوئي د وَنې وهلو سره سره د هغې جرړې د سيسې نه ډکې کړې خو د رَبِّ رحمان د عظيم الشان قدرت نه زار شم! يو څو ورځې پس په هغه اوسپنه کښې دننه بيا د هغه ونې 4 خاخونه را اوتل او په هر خاخ باندې کلمه طيبه ليکلې شوې وه. (د حيرانتيا نه ډکه دا نظاره ئې چې اوليدله نو هغه ټول مسلمانان شول،) بيا به هغه ټولو خلقو د هغه وَنې نه برکت حاصلولو، په بيمارئ کښې به ئې د هغې خاخونه استعمالول نو شفا به ئې نصيب کيدله.[2]

———323———

1… حجة الله على العالمين، الباب الثامن فى بعض ما وجد مكتوبًا…الخ، صفحه:158۔

2… السيرة الحلبيه، باب ما جاء من امر رسول الله…الخ، جلد:1، صفحه:318۔

## مُحَمَّد نوم جنت ته بوتللو والا دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا خو زمونږه د آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُحَمَّد نوم برکتونه دي، که یو بنده د دې پاک نوم نه د برکت اخستو د پاره خپل یا د خپلو بچو نوم مُحَمَّد کیږدي نو د هغوئي ته هم ډیر برکتونه نصیب کیږي: ❁ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د چا چې ځوئ اوشي او زما په محبت او د برکت حاصلولو د پاره د هغه نوم مُحَمَّد کیږدي نو هغه او د هغه ځوئ دواړه به جنت ته ځي[1] ❁ په یو **حدیث شریف** کښې دي: چا چې زما د نوم نه د برکت اُمّید لرلو سره زما په نوم باندې نوم کیښودو، تر قیامته پورې به سحر او ماښام په هغه باندې برکت نازلیږي.[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په رزق کښې به برکت راتللو

حضرت امام مالک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مکے والؤ به په خپل مینځ کښې دا خبرې کولې چې په کوم کور کښې هم مُحَمَّد نوم والا څوک وي نو په هغه

323

1…کنز العمال، کتاب النکاح، الباب السابع، الفصل الاول، جز:16، جلد:8، صفحه:175، حدیث:45215۔

2…الآحاد والمثاني لابن ابي عاصم، جلد:5، صفحه:275، حدیث:2800۔

کور کښې خير او برکت وي او د هغوئي په رزق کښې هم برکت وي.[1]

## اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ځوئ به پيدا کيږي

امام عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: چې څوک دا غواړي چې د هغه د زنانه په حمل کښې [موجود ماشوم] هلک [پيدا] شي نو هغه له پکار دي چې خپل لاس د زنانه په خيټه باندې کيږدي او اووائي اِنْ كَانَ ذَكَرًا فَقَدْ سَمَّيْتُهٗ مُحَمَّدًا يعني که دا هلک وي نو ما د ده نوم مُحَمَّد کيښودو. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هلک به کيږي.[2]

## چې بے ادبي اونشي

صدر الشريعه بدر الطريقه مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ليکي: مُحَمَّد ډير خوږ نوم دے، د دې نوم ډير تعريف په حديثونو کښې راغلے دے. که د تَصغِير (يعني نوم ورانيدو) انديښنه نه وي نو دا نوم دې کيښودلے شي او يو صورت دا دے چې د عقيقے [په ورځ] دې دا نوم کيښودے شي او د رابللو د پاره دې ورسره بَل يو نوم تجويز کړے شي [مثلًا نوم: محمد او د رابللو دپاره اِلياس] او [نو دغسې] د تَصغِير نه به هم بچ شي.[3]



1…المنتقى شرح مؤطا امام مالک، کتاب الجامع، مايکره من الاسماء، جلد:9، صفحه:456۔

2…اجوبة المرضية للسخاوى، جز:1، صفحه:381، تحت الحديث:100۔

3…بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:356، حصه:15۔

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه طريقه کار

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلسنت، مجدد دين وملت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د خپلو ټولو ځامنو او وريرونو په عقيقه کښې صرف مُحَمَّد نوم کيښودو بيا مې د پاک نوم د ادب [په وجه او د هر يو د] پيژندګلو د پاره عُرفي [يعني عام] نومونه بيل بيل کيښودل.[1]

## د عاشقِ اعلیٰ حضرت طريقه کار

کله چې شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت، باني دعوتِ اسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ته د چا د نوم کيښودلو خواست کولے شي نو عموماً هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د هغه ماشوم نوم: مُحَمَّد او د رابللو د پاره عُرف مثلاً: رَجَب [وغيره نوم] کيږدي.

## د ځوئ نوم چې مُحَمَّد کيږدې نو د هغه عزت کوه

کله چې څوک د خپل ځوئ نوم مُحَمَّد کيږدي نو هغه له پکار دي چې د پاک نوم د نسبت په وجه د هغه سره ښه سلوک کوي او د هغه عزت کوي. د مولا مشکل کُشا حضرت عَلِيُّ الْمُرتضیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې نبي کريم رَءُوفٌ رَّحيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: کله چې تاسو د

323

1…فتاویٰ رضويه، جلد:24، صفحه:689۔

ځوئ نوم مُحَمَّد کیږدئ نو د هغه عزت کوئ او په مجلس کښې د هغه د پاره ځائے فراخه کوئ او د هغه نسبت د ګناه په لور مه کوئ.[1] په یو بَل حدیثِ پاک کښې دي چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کله چې د هلک نوم مُحَمَّد کیږدئ نو هغه مه وهئ او مه ئې محرومه کوئ.[2]

## غوثِ پاک د مُحَمَّد نوم ادب اوفرمائیلو

د بَرِّصغیر د ټولو نه د لوئے مُحَدِّث شیخ عبد الحق مُحَدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه اصل نوم مبارک، مُحَمَّد دے. هغوئي فرمائي: یو ځل ما خوب اولیدلو چې د غوثِ اعظم شیخ عبد القادِر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په خدمت کښې حاضر شوم. په حاضرینو کښې چا غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ته عرض اوکړو: محمد عبد الحق راغلے دے او سلام عرض کوي. د دې اوریدلو سره غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه راپاځیدو او ما ته راغاړه وتلو، بیا ئې اوفرمائیل: په تا باندې د دوزخ اور حرام دے. شیخِ مُحَقِّق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه دا عنایت په دې وجه وو چې زما نوم مُحَمَّد دے.[3]

د مختلفو اسلامي نومونو په باره کښې د معلوماتو حاصلولو او د بچو د اسلامي نوم نه د ځان خبرولو د پاره د مکتبة المَدینه کتاب نام رکھنے کے

323

1…تاریخِ بغداد، جلد:3، صفحه:305، رقم:1398۔

2…مسندِ بزّار، جلد:9، صفحه:327، حدیث:3883۔

3…مدارج النبوت، باب پنجم، وذکر فضائلِ آنحضرت، جلد:1، صفحه:133۔

احکام کتاب اولولئ. **الله** پاک دې مونږ ته د مُحَمَّد نوم نه د برکتونو حاصلولو، د دې د ادب کولو او ټول عمر د دې پاک نوم د وِرد جوړولو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په زړه کښې د مدينے د عشق زياتولو، د مدينے ياد، د مدينے د ذِکر کولو، د ګناهونو او فضوليانو نه د بچ کيدلو، ښه د مقصد نه ډَک، د سنتو نه ډک او نيکو والا ژوند تيرولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل اوسئ او په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه اخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه درنصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع هم ده. ❀ د هر زيارت په ورځ د مابنام د لَمانځه نه پس په فلانکي ځائے (مثلاً فيضانِ مدينه) کښې د دعوتِ اسلامي هفته واره اجتماع کيږي، په دې کښې تلاوت، نعت، د سنتو نه ډَک بيان، ذِکر او د ژړا ډَکه دعا کيږي ❀ تاسو ته خواست دے ❀ تاسو هم په دې هفته واره اجتماع کښې په پابندئ سره شرکت کوئ! ❀ په ديني اجتماع کښې د کښيناستلو او د ذِکر کوونکو به خپل خومره ښکلے شان وي ځکه چې! د حديثِ پاک مطابق څوک چې د دوئي په خوا کښې کښيني، هغه هم بدبخته

نه پاتې کیږي[1] ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په هفته واره اجتماع کښې ذِکر کیږي ❁ عِلم دِین زده کیږي ❁ په نیک صحبت کښې کښیناستل او ❁ په جُمات کښې وخت تیرول نصیب کیږي ❁ یو اهم برکت دا چې د دیني اجتماع د پاره تلل هم د **اللّٰه** پاک په لاره کښې وَتل دي، چې هفته واره اجتماع ته تشریف راوړئ نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د کور نه د وتلو نه واخله تر بیرته راتللو پورې به ټول وخت د **اللّٰه** پاک په لار کښې شمیرلے کیږي ❁ د هر زیارت په ورځ په پابندئ سره په **هفته واره اجتماع** کښې د اَوَّل نه تر آخره پورې د شرکت کولو پوخ نِیَّت اوکړئ چې اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د هر زیارت په ورځ به په پابندئ سره بخپله هم

په هفته واره اجتماع کښې شرکت کووم او نورو ته به هُم د نیکئ دعوت ورکووم او ځان سره به ئې بوځم.

## په ټیبل ټینس باندې د مئین اصلاح څنګه اوشوه...؟

د کراچئ (پاکستان) د یو اسلامي ورور په باره کښې بیان کړے شوي دي چې هغه د مذهبي ذهن نه لرلو په وجه په فضولیاتو کښې د خپل ژوند شپې او ورځې تیرولې، د ګناهونو هم سلسله وه، او دے په ټیبل ټینس ډیر مئین وو، چې څنګه به مابنام شو نو په ټیبل ټینس کښې به مصروف شو او بعضې وخت به دا سلسله تر شپې پورې روانه وه، یو ځل د دعوتِ اسلامي د



1… مسلم، کتاب الذکر و الدّعا...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحه:1037، حدیث:2689۔

www.dawateislami.net

ديني ماحول سره تعلق لرونڪي يو اسلامي ورور ده ته او د ده سره لوبو کوونڪو ته د لمُونځ کولو او په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو، اسلامي ورونړو ده له پرله پسې د نیکۍ دعوت ورکولو، آخر په ټيبل ټينس مئين دې ګس په هفته واره د سنتو نه ډکه اجتماع کښې شرکت شروع کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هفته وارې اجتماع په برکت په مزه مزه د هغه زړه نرم شو، د هغه د تور زړه نه خيرے په لرې کيدو شو، هغه د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړه او فضوليات ئې پريښودل او د دعوتِ اسلامي پاک ديني ماحول کښې شامل شو.

یہاں سنتیں سیکھنے کو ملیں گی | دِلائے گا خوفِ خُدا مدنی ماحول
تُو آ بے نمازی، ہے دیتا نمازی | خُدا کے کرم سے بَنا مدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## "فيضانِ حديث" موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجۍ په ذريعه هم په مختلف انداز کښې د نيکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو ډير ښکلے، ځانګړے او ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن د "فيضانِ حديث" په نوم په ***Play Store*** او ***App Store*** باندې وړاندې کړے شوے دے. د ټولو نه وړومبے په دې ايپلي کيشن کښې د

حدیثِ پاک د ټولو نه زیات لوستونکے کتاب **مِشْکٰوةُ الْمَصَابِیْح** او د دې آسانه اُردو شرح **مِرْاٰةُ الْمَنَاجِیْح** شامل کړے شوے دے، ډیر زر به په دې کښې د حدیثِ پاک نور کتابونه هم شامل کړے شي.

**یو څو اهم خاصیتونه:** ❁ د دې ایپلي کیشن په مرسته تاسو حدیثونه مبارک په کتابي شکل کښې (یعنې د جلدونو په لحاظ سره) هم لوستے شئ او د مختلفو موضوعاتو په لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❁ سرچ آپشن [یعنې د لټولو آپشن] هم موجود دے، د کوم په مرسته چې تاسو په ټول کتاب کښې یا په یو حدیث کښې مختلف لفظونه او ټوله جُمله هم لټولے شئ ❁ دغه شان د عربئ لفظونه، د دې ترجمه او په شرح کښې بیل بیل هم لټولے شئ ❁ د علمائے کرامو او د طالب علمانو د پاره په دې کښې د حدیثِ پاک د عربئ متن د اِعرابو سره او د اعرابو نه بغیر، په دواړه قِسم د کتلو سهولت موجود دے ❁ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حدیثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❁ دغه شان په ایپلي کیشن کښې مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او ❁ د حدیثونو د شیئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے.

هم نن په خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د حدیثِ پاک فیضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بیان په آخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د څینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وليمه کول سُنَّتِ مصطفٰے ده

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامین: ① وليمه کوئ اګر که صرف د یوې چیلۍ (بیزې) وي.[2] ② بد خوراک د هغه وليمې دے په کومه کښې چې مالداره را اوبللے شي او غریبانان پریښودے شي.[3]

اے عاشقانِ رَسُول! وليمه کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے ❀ زمونږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به وليمه کوله ❀ د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت صفیه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا سره د نِکاح کولو په وخت خوږ آقا،



1…مشکوٰۃ،کتابُ:الْاِیمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175۔
2…بخاری،کتاب:النکاح، باب:الولیمة ولو بشاة، صفحه:1329، حدیث:5167۔
3…بخاری،کتاب:النکاح، باب:من ترک الدعوة، صفحه:1331، حدیث:5177۔

www.dawateislami.net

رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وليمه کښې په خلقو حَرِيسَه اوخوړله.[1]

**د حَرِيْسَه وضاحت:** د کجورو، کوَچو، چوارو او غوړو کښ وَړ کولو نه جوړ کړے شوي خوراک ته حَرِيسه وئيلے شي، د دې ډير قِسمونه دي او په مختلفو طريقو جوړولے شي.

❀ دغه شان د اُمُّ المُؤمِنِين حضرت زينب رَضِیَ اللّٰہ عَنْہا د نِکاح په وخت رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وليمه کښې يوه چيلئ (بيزه) ذبح کړه، دا د هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له خوا په شوؤ وليمو کښې د ټولو نه غټه وليمه وه.[2]

**د وليمے د دعوت په باره کښې مدني ګل:** ❀ وليمه د نارينه د حيثيت مطابق ده، مثلاً که غريب وي نو د خپل حيثيت مطابق دې وليمه اوکړي، مالداره دې د خپل حيثيت مطابق[3] [وليمه اوکړي] ❀ وليمه د واده د شپې نه پس کول سُنَّت عمل دے، بعضې خلق د نِکاح نه مخکښې وليمه کوي، داسې کولو سره به سُنَّت نه ادا کيږي. ❀ د وليمے دعوت قبلول سُنَّت عمل دے، البته چې د کومې وليمے يا دعوت په باره کښې معلومه وي چې هلته فضول کارونه (مثلاً سندرې ګډاګانې وي، يا زنانه او نارينه يو ځائے وي) نو هلته



1…بخاری، کتاب:النکاح، باب:الولیمة ولو بشاة، صفحه:1330، حدیث:5169۔

2…بخاری، کتاب:النکاح، باب:الولیمة ولو بشاة، صفحه:1330، حدیث:5168۔

3…فتح الباری، کتاب:النکاح، باب:الولیمة ولو بشاة، جلد:9، صفحه:293، تحت الحدیث:5167۔

www.dawateislami.net

مه ځئ.[1]

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د **مكتبة المَدينه** د **بهارِ شريعت** جلد 3 نه حصه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ إسلامي مدني قافلو کښې عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

بے عمل با عمل بن گئے خاص کر آپ بھی دیکھ لیں قافلے میں چلو
خوب ہو گا ثواب اور ٹلے گا عذاب پاؤ گے بخششیں قافلے میں چلو[2]

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود



1…بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:392، حصه:16 خلاصةً۔
2…وسائلِ بخشش، صفحه:672۔

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے برسيره



1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې

323

1 . . . القول البديع، الباب الثاني، ص۲۷۷
2 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹
3 . . . القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

هُم په شريکه اووائيو:

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ**

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2]

راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله



1 . . . الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2 . . . مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة . . . الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

www.dawateislami.net

نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1 . . . تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵

www.dawateislami.net